(c) ketabton.com: The Digital Library



نادر افغان گوره      "محمد گل خان" گوره
"صمد" په جهل کنبې پروت      "فرهاد" په ښکېل کې پروت
"کوثر" حیران شولو      "همېش" خزان شولو
اېښي چې سپک یې کړو      باجوړ وره ک یې کړو
د کندهار احوال      د ننگرهار احوال
جلاخساب غواړي      نوی کتاب غواړي
بلخ کې نهضت نه و      هرات کې پست نه و
زمونږ وزیر به و      څوک چې بې پیرېنه و
څوک به چې غل نه و      دغلو به مل نه و
کلله په کارېنه و      د سترگو خارېنه و

❀ ❀ ❀

دوست د پښتو کلله      چا پرېښودو کلله
وه د پښتو دښمني      د پښتو د ښمني
شرط د لوړتیا زمونږ      دا عقلا زمونږ
لوړبه شو تیټ چه به شو      جگ به شو بیټ چه به شو
یوخوا... و ناست      بل خوا ... و ناست
دوه افغانان وو دوی      مگر څه شان وو دوی
یو به پارسي ویله      بل انگریزي ویله
دواړو بهانه جوړه کړه      نه افسانه جوړه کړه
د هندوستان په نوم      پښتونستان په نوم
پښتون راگیر کړو دوی      له تیغه تېر کړو دوی
یو سرخپوشان کړه دل      بل ویښ زلمیان کړه دل
ای ایده پښتو!      ای هسهیده پښتو

(٢)

ځيني زامن خو دې لې وګوره ته — زنګ او جامن خودې لې وګوره ته
د بل واده کې کړي نخا ادي — زمـــا ادي پښـــتيانا ادي
نه پښت مني نه پښتونخوا مني — نـه پلار او مور اونـه بابا مني
خو ستا شودې خوري ناروا ادي — زمـــا ادي پښـــتيانا ادي
دنيا کې اوسي دنيا نه پېژني — خپل خير او شر او صلاته پېژني
د بل په ژبه کړي وينا ادي — زمـــا ادي پښـــتيانا ادي
دا ستا لمن يې کړه راغونډه دغو — خپله پرده يې کړه بربنډه دغو
په قام يې جوړه کړه غوغا ادي — زمـــا ادي اې پښـــتونخوا ادي
خلکو مسلک کې قام ته ګټه وکړه — اول د خير او شر يې لټه وکړه
دوی بې له علمه کړي دعوا ادي — زمـــا ادي پښـــتيانا ادي
دا پاتې کور به راته وران کې دوی — سر به له ګېډې نه قربان کې دوی
مونږ به اخته کې په بلا ادي — زمـــا ادي پښـــتيانا ادي
مونږ حريت په ګېډه نه ورکوو — خپل شرافت په ګېډه نه ورکوو
اعتبار نه شته په بل چا ادي — زمـــا ادي پښـــتيانا ادي!
مونږ باداران کاله ته نه راولو — دعوه داران کاله ته نه راولو
مونږ يو اصرار د پښتونخوا ادي — زمـــا ادي پښـــتيانا ادي
مونږ افغاني تولنپالنه منو — د خپل وطن او قام روزنه منو
نه خورو په چا اريانا ادي — زمـــا ادي پښـــتيانا ادي
شته د جهان ټول نعمتونه پکښې — ښکلې هوا ښکلي قومونه پکښې
دوستي په کار ده د هر چا ادي — زمـــا آدې پښـــتيانا ادي
هر څوک په خپل وطن بادار ښه دی — پښتون د خپل وطن سرکار ښه دی
يادمې بخدی او بلهيکا ادي — زمـــا ادي پښـــتيانا ادي
لوړ بيرغونه دې راتيت مه شه — ښکلي صنعت دې د چاچيت مه شه
ته افتخار يې د دنيا ادي! — زمـــا ادي پښـــتيانا ادي!

جلال اباد : خادم مېنه — حمل ١٣٥٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

